څېړنې د ښه افغانستان لپاره
AREU
۱۳ کاله
باکیفیته څېړنه

# د افغانستان د ننګرهار په ولایت کې د پیازو د مارکیټ غیررسمي مقررات

مرغومی ۱۳۹۳

جولیا مینویا، وامق الله ممتاز او ادم پین

## کلیدي پیغامونه

- د پیازو کروندګر، د دې پرځای چې د پور او د بیو په اړه معلوماتو ته لاسرسی ولري، په بازار کې د قیمتونو د بې ثباتۍ له اړخه له سختو ستونزو سره مخ دي.
- د قیمتونو دبې ثباتۍ ستونزه تر یوه حده د سړو خونو په جوړولو کنټرولېدای شي. خو له دې سره سره یو بل ټکی هم مهم دی، دا ټکی په بازار کې موجوده ځواکمن دلالان دي چې د بیو تنظیم یې په واک کې دی او د قیمتونو په بې ثباته کولو کې مهم رول لري. د دا ډول دلالانو مخنیوی او کنټرول تر ډېره ستونزمن کار برېښي.
- اوسمهال، د ازاد بازار نظریه واکمنه ده، دا نظریه په زور په بازار کې د نرخونو د کچې د راټیټولو مخالفت کوي او په دې برخه کې هیڅ ډول لاسوهنه نه مني. دا نظریه د ګوابښ په کچه کې د کموالي راوستو په موخه له هر راز لاسوهنو سره مخالفه ده. دا ډول مداخلې د پخوانیو کرنیزو بدلونونو ځانګړنه وه او کېدای شي، د دې لپاره یوازینۍ لاره وي، چې د کوچنیو بزګرانو لپاره د ننګونو په کچه کې کموالی راشي.

## د څېړنې موضوع څه ده؟

دغه څېړنه د خوندي معیشت څېړنیز کنسرسیوم (SLRC) تر څارنې لاندې ترسره شوې ده. د دغې څېړنې هدف دا دی، چې خلک د جګړو او شخړو له لاسه په اغېزمنو شرایطو کې، څنګه د خپل ژوندانه چارې پر مخ بوځي او د ماشومانو زده کړې ته پام وکړي. همدارنګه د دې څېړنې بل هدف دا دی چې له ناروغیو سره څنګه چلند وکړو او ټولیزو خدمتونو ته څرنګه لاسرسۍ ومومو.



په افغانستان کې د پیازو تولید په چټکۍ سره مخ پر وده روان دی. عایشه ولاني/ دماشومانو د ساتنې بین المللی موسسه

د افغانستان په تړاو د SLRC څېړنیزو پروګرامونو یوه مهمه مولفه، د کلیوالو خلکو پر اقتصادي فعالیتونو او دا چې د کرنیزو توکو مارکیټ په عمل کې څرنګه فعالیت کوي، تمرکز لري. دغه څېړنه، په کارپوهو پالیسي جوړوونکو ته د وړاندې کېدو په پام کې نیولو سره، د مارکیټونو د واقعي او طبیعي توکو د پیچلتیا او توپیر په اړه د پوهاوي د پراختیا په هدف، د جدي څېړنو په کتار کې، لومړنۍ څېړنه ده.

د افغانستان دولت د کرنې او کلیو پراختیا جامع پروګرام (CARD-F) داسې اټکل کوي، چې د بیو په تړاو د معلوماتو نشتوالی او پور (کریډیټ) ته د بزګرانو نه لاسرسی، هغه مهم محدودیتونه دي، چې واړه بزګران له ستونزو سره مخ کوي او د کرنیز مارکیټ د ودې مخه نیسي. خو په دې برخه کې یوائې د مارکیټ د نرخونو په اړه د معلوماتو شتوالی او پانګې ته لاسرسی مهم نه دی، بلکې دا هم مهم دی، چې بیې څرنګه او د چا په ګټه ټاکل کېږي. سربېره پر دې، اقتصادي چارې، نه یوازې له ټولنیزو اړیکو پرته نه ترسره کېږي، بلکې په ژوره توګه پکې رېښه هم لري. د پیازو د مارکیټ په اړه دا څېړنه د دې ښکارندویي کوي چې د کرنیزو توکو یو مارکیت څنګه فعالیت کوي او دغه موضوع ارزوي، چې ټولنیزې اړیکې څرنګه، د معلوماتو، پانګې، سوداګریز لګښت، تولید او ننګونې له پلوه مارکیټ ته د لاس رسي لارې چارې سمبالوي.

دا چې ولې مو په ننګرهار کې د پیازو مارکیټ، د خپلې څېړنې د موضوع په توګه غوره کړ، دلته یو شمېر لاملونه موجود وو. لومړی دا چې، دغه کرنیز توکی داسې نغدي توکی دی، چې صادرېږي او تولید یې ورځ تر بلې مخ په پراخېدو دي. دویم داسې ښکاري چې، دغه توکی د خپلې عرضې د پرتلیز عاید له اړخه کېدای شي، د کوکنارو د کرکیلې ځایناستی شي. درېیم دا چې، پیاز با ارزښته سابه دي، بازار او استعمال یې زیات دی او په ډېرو سیمو کې ښه وده کوي. ډېر خلک په دې باور دي چې د افغانستان اب وهوا د دې بوټي د کرلو له پاره ډېره مناسبه ده او دا بوټی د دې هېواد د کرنیزې ودې لپاره یو فرصت ګڼي.

## څه مو ترسره کړل؟

د دې څېړنې لپاره په دوو پړاوونو کې له ننګرهار او پېښور څخه اسناد چمتو شوي دي. د ۲۰۱۳ ز. کال په دسمبر کې له ۵۲ سوداګرو او بزګرو سره ژورې مرکې ترسره شوې او لاندې مواد ترې چمتو شول:

- د کېږوالی او بېځایه کېدو داستان په ګډون د سوداګرو ژوندلیک
- د مارکیټ یو فصل
- جوړښتونه او ټکنالوژي (زیرمتونونه، سړک او ترانسپورټ) د پیازو په سوداګرۍ کې شامل دي
- د بیو ټاکل
- د جلال آباد او پاکستان ترمنځ او په پېښور کې د افغان سوداګرو په ګډون، د بېلابېلو ولایتي مرکزونو ترمنځ اړیکې او شبکې

۱۴ نورې مرکې د ۲۰۱۴ز. کال په فبروري کې له سوداګرو او بزګرو سره ترسره شوې؛ د چمتو شویو اسنادو تر لومړنی تحلیل وروسته، نور اضافي معلومات په لاندې برخو کې راټول شوي دي:

- پیاز د کوکنارو د یو بدیل په توګه
- د کرنیزو توکو تنوع او د اوبو سرچینو ته لاسرسی
- عواید او د پور د ورکړې سیمه بیز سیستم
- د جلال اباد او پېښور د مارکیټونو ترمنځ د راکړې ورکړې حجم او توپیرونه
- د واک اړیکې

مرکې د لاندې شیانو د سم پوهاوي پر جوړښت تمرکز لري:

- د رسمي دولت د جوړښت په دننه او بهر، د اصلي او کلیدي لوبغاړو ونډه
- د رسمي دولت ونډه
- عامه خدمتونو او اقتصادي فرصتونو ته د لاسرسي د محدودولو او زیاتولو په برخه کې د واک د فردي زبرځواک ونډه.

## زموږ موندنې څه دي؟

### آیا پور او د بیو په اړه د معلوماتو نشتوالی، په مارکیټ کې لاسرسی محدودوي؟

په پراخه کچه داسې اټکل کېږي، چې د بیو په اړه د معلوماتو نشتوالی اوپور ته نه لاسرسی له مارکیټ سره د کوچنیو بزګرانو د تعامل پر لاره کې خنډ ګرځي. د دغې څېړنې اصلي موندنه دا ده، چې دغه خبره، سمه نه ده. د پیازو بزګران د بیو معلوماتو ته هم لاسرسی لري او هم د ورځینو بیو په تړاو په بشپړه توګه خبر دي. سربېره پر دې، د پور د ورکړې د غیر رسمي شبکو له لارې، چې د باور او اعتماد له مخې د ټولنیزو اړیکو پر بنسټ ولاړې وي، پورونو ته په پراخه کچه لاسرسی شونی دی. دغه باور، چې مارکیټ تر ډېره پر رسمي پورونو پورې تړلی دی، هغه باور دی، چې ستونزې رامنځته کوي رسمي پور (چې په رسمي ډول ورکول کېږي)، سازماني او اداري ترتیبات یې، تر ډېره د دې پرځای، چې داسې یوه وسیله وي، چې پکې د پور د ورکړې سیستم وده وکړي، تر ډېره د غیررسمي پور د اړیکو د پراختیا او ودې پایله ده. پر دې بنسټ، دغه چاره د غیررسمي کریډیټ له ودې څخه د ملاتړ په برخه کې، یوه ننګونه ګڼل کېږي. دغه مسله، د هغو ډېرو مناسبو شرایطو د برابرېدو په پام کې نیولو سره، موږ باوري کوي، چې شخصي شبکو ته پراختیا ورکړو.

## څوک پرېکړه کوونکي دي؟

د مارکیټ راکړه ورکړه نه یوازې د توکو د پېر او پلور په برخه کې وي، بلکې هره راکړه ورکړه، د کریډیټ، ټولنیزو اړیکو او د واک په څو اړخیزو بېلابېلو مبادلو کې نغښتې ده. په افغانستان کې اقتصادي او سیاسي بازارونه ډېرې نږدې اړیکې سره لري. دلته کلیدي لوبغاړي په دواړو برخو کې غوښنه ونډه لري او دوی خپلې اقتصادي او سیاسي سرچینې سره نښلوي او نږدې کوي یې ، ترڅو په دې توګه خپل نسبي واک په ټولو برخو کې کره او غښتلی کړي؛ د بېلګې په توګه په ګمرکي عوایدو او مالیاتو کې رسمي او غیررسمي درغلي او لاسوهنه. د پیازو پر اقتصادي لیډلورې د با نفوذه او پیاوړو سوداګرو زیات منفي اغېز او نور... دوی د معاملې له لارې، کولی شي، د سوداګرو لپاره سیمه بیز قیمتونه وټاکي او د مارکیټ معلوماتو ته لاسرسی کنټرول کړي. همدا راز دوی د توکو د احتکار او نارسمي کریډیټ ته د لاسرسي چارې د تنظیم له اړخه، د بزګرو او کوچنیو سوداګرو لپاره په جدي توګه د عاید فرصتونه او سرچینې محدودوي. د دوی د ارزښت لړۍ په تر ټولو ټیټه کچه کې نسبي کمزورتیا ده. په دې معنا چې دوی د دې پرځای، چې د بیو ټاکونکي وي، د بیو یادښتوونکي دي. د ولسوالۍ په کچه تولیدوونکي او سوداګر کولی شي، چې په افغانستان کې د موجودو انحصاري اقداماتو ، په شاوخوا کې نورې لارې چارې ولټوي. خو د پاکستان او هند په بندرونو کې، چېرې چې هلته پیاوړي سوداګر له پیاوړو سیاسي ستو سره اړیکې لري، د اجاره غوښتونکو کړیو د اقداماتو شنډول څه اسانه خبره نه ده.

## د بیو بې ثباتي او ننګونې

د پیازو په بازار کې د بیو بې ثباتي ډېره ده. دا بې ثباتي کوچیني کاروباریان او هغه کسان چې کمه څمکه لري تاواني کوي او د دوی له پاره خطرناکه پایله لري. په دې برخه کې یو عمده لامل، زیربنایي محدودیتونه لکه د زېرمه کولو ظرفیتونه دي. پیاز هغه توکي دي، چې ډېر ژر فاسد او خرابېږي، دا څکه چې په افغانستان کې د سړو خونو اسانتیاوي نشته چې پیاز پکې زېرمه کړي. په دې توګه د فصل تر ۴۰٪ سلنه زیات حاصلات ضایع کېږي چې دا ضایعات په خپله د مارکیټ په عرضې او قیمتونو اغېزه شیندي. د اضافي او حمایوي زیرمو نشتوالی، د دې لامل ګرځي، چې د عرضې او تقاضا په برخه کې لنډ مهاله بې ثباتي رامنځته شي، چې دا په خپله د خرڅلاو په قیمتونو کې له چټکو نوساناتو سره ملګري وي. دغه لړۍ کولی شي، د بیو په تړاو د معامله ګرو له چلونو او لنډ مهال احتکار سره یوه ترکیبي ستونزه رامنځته کړي. په همدې حال، دغه بیې د عرضې او تقاضا په پام کې نیولو سره په اسانۍ سره نه تنظیمېږي. تر ټولو مهم محدودیت، په پاکستان او هند کې د بازارونو جوړښت دی، چې د افغانستان د پیازو ترانزیت د اصلي سیمې په توګه، د جلال اباد بازار سوداګرۍ چارې ترې اغېزمنه کېږي. د هند په بازار کې د تقاضاوو کچه، په افغانستان او پاکستان کې قیمتونه په پراخه پیمانه تر خپلې اغېزې لاندې راولي؛ لکه څرنګه چې پر ۲۰۱۳ ز. کال پیاز په بې ساري توګه لوړ شول. که څه هم د دغې څېړنې له موضوع څخه لرې ده، خو باید یادونه وکړو، چې دا هم ممکن دی، چې د مارکیټ غیر رسمي مقررات، په هند کې د پیازو د سوداګرۍ په ډګر کې د سترو لوبغاړو له خوا د کراچۍ له لارې پښتنور بازار ته امتداد ومومي.

## دغه څېړنه پالیسي جوړوونکو لپاره څه پیغام لري؟

کریډیټ او د بازار معلوماتو ته لاسرسی، د مخ پر ودو بزګرانو او پیازو د خرڅلاو پر لاره کې پراته کلیدي محدودیتونه او ستونزې نه دي، بلکې تر ټولو عمده خنډ دا دی، چې د پیازو بازار د بیو د بې ثباتۍ له سترو ننګونو سره مخ دي.

یو شمېر ننګونې د توکي په ذاتي ماهیت پورې تړلې دي. پیاز داسې یو څه دي چې د ډېرو وخت له پاره نه ساتل کېږي، ژر خرابېږي، همدا علت دی چې په پراخه پیمانه ضایعات رامینځته کېږي. د مناسبو زېرمتونونو نشتوالی، په مارکیټ کې د هغو ملاتړو زېرمتونونو د نشتوالي لامل ګرځي، چې د عرضې او تقاضا ترمنځ واټن کموي او دغه چاره په قیمتونو کې د شدیدو بې ثباتیو علت دی. د سړو خونو اسانتیاوو رامنځته کول، د پیازو د ضایع کېدو مخه نیسي او د ملاتړ زیرمتون له رامنځته کېدو سره مرسته کوي. خو سره له دې هم یوازې سړې خونې، د مارکیټ ستونزې نه اواروي.

د بیو بې ثباتي په بیو کې د هغو لاسوهنو او درغلیو پایله هم ده، چې په مارکیټ کې د سترو دلالانو او سوداګرو له خوا په مهارت سره ترسره کېږي. دغه دلالان په سرحدي بندرونو کې د سترو سوداګرو په ګټه په قیمتونو کې مداخله کوي او کوچني سوداګر تاواني کوي. په مارکیټ کې د دغو ځواکمنو لوبغاړو او دلالانو موقعیت، د پیاوړو سیاسي اړیکو په وسیله بیمه شوې ده. په مارکیټ کې د واک دغه ناانډولی ته د تخنیکي مداخلو او ماموریتونو په وسیله پاملرنه نه کېږي. بزګران له دغه وضعیت سره د لږ مخ کېدو له لارې، پرتې ننګونې په دوو لارو مدیریت کوي.

بزګران کولی شي، په بازار کې د خپلې ښکېلتیا (حضور) په محدودولو سره، دغه ګواښونه له دوې لارې مدیریت کړي. لومړی دا چې، دوی د خپلو حاصلاتو په کچه کې کموالی راولي او یوه برخه څمکه، د خپل ژوندانه د معیشت او اړتیاوو لپاره ساتي. دویم، دوی له هغو سوداګرو او کړیو څخه، چې دوی پرې باور لري، د شخصي اړیکو له لارې غیر رسمي پور ترلاسه کوي. په همدې ډول کوچني سوداګر هم، له هغو کسانو څخه پور اخلي او هغو کسانو ته بې ورکوي، چې پرې باور لري. دغه باور او اعتماد په مادي شتمنیو نه، بلکې په اړیکو پورې تړلې دی. کریډیټ (پور) له ټولنیزه پلوه، هغه پیسې دي چې د پور په ډول ورکول کېږي او یا اخیستل کېږي. په رسمي ادارو کې د باور نشتوالی د دې لامل ګرځېدلی، چې د رسمي پور د ورکړې شرایط او مقررات ډېر سخت وي، همدا قیودات او شرطونه د دې لامل ګرځي چې د دا ډول پورونو اخیستل سخت کړي. د کریډیټ زیاته پراختیا، د زیاتو بین الفردي اړیکو په پراخوالي پورې تړلې دی، چې دا بیا په خپل وار، د ډېر کلې او عام شوی او باوري چاپېریال په رامنځته کېدو پورې اړه لري. رسمي کریډیټ، د دې پرځای چې د کریډیټ د ترلاسه کېدو لپاره یوه وسیله وي، کېدای شي د هغه یوه پایله وي.

په داسې حال کې، چې اوسمهال د ازاد بازار باور، په بازار کې د دولتي مداخلې لپاره مساعد نه دی یوازینۍ لاره، چې کولی شي، په بازار کې د دغو ننګونو په کچه کې کموالی راولي، په بازار کې د دولت مداخله ده، خو په ازاد بازار کې دولت مداخله نه شي کولای، دولتي مداخلې، له بیو ملاتړ، کریډیټ ته ارزانه لاسرسی او دې ته ورته نورې مداخلې په بر کې نیسي، چې په هند کې د شین انقلاب پر مهال، له بازار څخه د دولتي ملاتړ یوه بېلګه او ځانګړنه وه.

## په راتلونکې کې څېړنیز پلانونه څه دي؟

په دویم ګام کې، د کندهار په ښاري اقتصاد کې د موبایل پلورنځیو په اړه یوه موردي څېړنه، چې د ترسره کېدو په حال کې ده او یو راپور، چې کېدای شي، د ۲۰۱۵ز. کال په لومړیو کې خپور شي، دربیمه یوه مارکیټي څېړنه، چې د کار د کلیوالي بازار په اړه ده، او کېدای شي، د ۲۰۱۵ ز. کال په لومړي نیمایي کې په هرات کې ترسره شي.

## د افغانستان د څېړنې او ارزونې د واحد ورستنۍ خپرونې

| نیټه | د خپروني نوم | لیکوال | پښتو | دري | دڅیړنې موضوع | د څیړنې دول |
|---|---|---|---|---|---|---|
| جولای ۲۰۱۵ | د افغانستان د لیسو سیاسی کول | انتونیو جیستازي او علی محمد علي | ✓ | ✓ | حکومتداری | توضیح پاڼه |
| می ۲۰۱۵ | د افغانستان په اساسی قانون کی د قواوو جلاوالی: یوه موضوعی څیړنه | | ✓ | ✓ | حکومتداری | موضوعي څیړنه |
| می ۲۰۱۵ | په افغانستان کی د کلیو دوول پیژندنې دجوړولولپاره د کلستر ډوله تحلیل څخه ګټه اخیستنه | ادم پین او جورجیا سترج | | | پایښت لرونکی معیشت | کاري قاعده |
| اپریل ۲۰۱۵ | د افغانستان د څیړنو خبر پاڼه - ۳۱ ګڼه | د افغانستان د څیړنې او ارزونې واحد | | | | څیړنیز خبرپاڼه |
| اپریل ۲۰۱۵ | په افغانستان کی د قواوو جلاوالی:تیوری او عمل | اروني جیاکودی | ✓ | ✓ | حکومتداری | پالیسی پاڼه |
| اپریل ۲۰۱۵ | په افغانستان کې د اساسي حقونو تدریجي تکامل: ۱۹۲۴- ۲۰۰۴ | اروني جیاکودی | ✓ | ✓ | حکومتداری | پالیسی پاڼه |
| مارچ ۲۰۱۵ | د الف څخه تر یا د افغانستان لپاره مرستندوی لارښود دیارلسمه ګڼه ۲۰۱۵ | د افغانستان د څیړنې او ارزونې واحد | ✓ | ✓ | | کتاب |
| فبروری ۲۰۱۵ | په افغانستان کې ولایتي سیاست او حکومتولي: دننګرهار ولایت بېلګه | اشلي جکسن | ✓ | ✓ | پایښت لرونکی معیشت | پالیسی پاڼه |
| فبروری ۲۰۱۵ | د کار بازار، ټولنیزه نابرابری او په کابل کې ګډون کي | ریچارد مالت او ادم پین | ✓ | ✓ | پایښت لرونکی معیشت | پالیسی پاڼه |
| جنوری ۲۰۱۵ | د پیاز ټولنیز اهمیت: د افغانستان په ننګرهار کې د پیازو د بازار غیر رسمي قواعد او مقررات | جولیا مینویا، ادم پین او ومیق الله ممتاز | ✓ | ✓ | پایښت لرونکی معیشت | پالیسی پاڼه |
| دسمبر ۲۰۱۴ | کوچنیان ولی یوازی سفر کوی؟ د کوچنیانو، کورنیو او له افغانستان څخه د استوونکو ټولنو له نظره اروپا او نورو صنعتی هیوادونو ته د تګ انګیزې | چونا آر. اچاویز جنیفربګاپورو لیحه ویلفر داری شکریه آزادمنش | ✓ | ✓ | کډوالي او نړیوالي شبکې | تحلیلي څیړنه |
| نوامبر ۲۰۱۴ | په افغانستان کې د ښځو او رهبریت: درسونه او وړاندیزونه | آریه نجات | ✓ | ✓ | حکومتداری | پالیسی پاڼه |
| نوامبر ۲۰۱۴ | د خلکو بنسټیزو حقونو ته یو ځغلنده کتنه: ننګوتی او فرصتونه | داکتر رنګین دادفر سپنتا | ✓ | ✓ | حکومتداری | موضوعي څیړنه |
| آګست ۲۰۱۴ | د افغانستان اساسي قانون لس کلن شوکومې ستونزې مطرحی دي؟ | داکتر محمد هاشم کمالی | ✓ | ✓ | حکومتداری | تحلیلي څیړنه |
| آګست ۲۰۱۴ | د افغانستان د ټاکنیزو ښخرودحل لپاره د میکانیزمونو وضعیت | اروني جیاکودی | ✓ | ✓ | حکومتداری | پالیسی پاڼه |
| آګست ۲۰۱۴ | ناهیلیتوب یا امیدواري؟ له ۱۳۹۳م (۲۰۱۴) کال څخه وروسته په افغانستان کې د کوکنار کښت | پاول فیشستین او دیوید منسفیلد | ✓ | ✓ | د طبیعی سرچینو مدیریت | پالیسی پاڼه |
| جون ۲۰۱۴ | په افغانستان کې ولایتي سیاست او حکومتولي: دننګرهار ولایت بېلګه | اشلي جکسن | ✓ | ✓ | پایښت لرونکی معیشت | موضوعي څیړنه |
| جون ۲۰۱۴ | د ګردی میز بحث: دافغانستان د ټولټاکنو تجربې | د افغانستان د څیړنې او ارزونې واحد | | | حکومتداری | د ګردی میز د بحث جریان |
| جون ۲۰۱۴ | له بدو بې بدتر کړ» د ننبتو په ولایتونو هلمند او ننګرهار کې د کوکنارو کر ته پام | دیوید منسفیلد | ✓ | ✓ | د طبیعی سرچینو مدیریت | موضوعي څیړنه |
| می ۲۰۱۴ | افغانستان: د کلیو د جلاکولو او ارزوني لپاره د یوې طریقې جوړول | ادم پین | | | پایښت لرونکی معیشت | کاري قاعده |
| می ۲۰۱۴ | افغان ملی پوځ له مالي اړخونو ها خوا د پایښت پروړاندی پرتې ننګونې | انتونیو جیستازي او پیتر کوینتن | ✓ | ✓ | حکومتداری | تحلیلي څیړنه |
| اپریل ۲۰۱۴ | ټولنیز ملاتړ او د کار پروګرامونه څنګه په ټولنیزوځایوالي کې ونډه اخلي؟ د افغانستان، بنګله دیش، هند او نیپال څخه شواهد | بابکن بابا جانیان، جسیکا هاګن-زانکر او ربیکا هولمز | ✓ | ✓ | جندر | ترکیبي څیړنه |
| اپریل ۲۰۱۴ | په افغانستان کی د برک ( BRAC ) د ژوندانه د مهارتونو د زده کړو او کاري مهارتونو د روزنې ونډه په ټولنیز مشارکت کی | چونا اچاوز ،بابکن بابه جانین ،جسیکا هیګن زنکر | ✓ | ✓ | جندر | پالیسی پاڼه |
| اپریل ۲۰۱۴ | د کار او اشتغال موندنی کرنلارې څرنګه په افغانستان کې له ټولنیز ادغام سره مرسته کوی؟ د BRAC )برک( د ژوند د روزنیزو مهارتونو او د ځوانو ښځو د معیشت لپاره د زده کړې بیلګې | چونا آر. ایچاویز، بابکن بابا جانیان، جسیکا هاګن-زانکر ،شاهین اکتر، او جنیفرباګوپورا | ✓ | ✓ | جندر | موضوعي څیړنه |
| اپریل ۲۰۱۴ | د خاوري ارزونه: په ۲۰۱۳ کال کې د بلخ او بدخشان په ولایتونو کې د کوکنارو کرکیله | پاول فیشستین | ✓ | ✓ | د طبیعی سرچینو مدیریت | موضوعي څیړنه |
| مارچ ۲۰۱۴ | د افغانستان د ټاکنیزو شکایتونو په اړه قضاوت او د قانون د نه مراعاتولوخطرونه | غزال حارث | ✓ | ✓ | حکومتداری | موضوعي څیړنه |
| مارچ ۲۰۱۴ | په افغانستان کې حکومتولي: یو پېژند | آریه نجات | | | حکومتداری | تحلیلي څیړنه |
| مارچ ۲۰۱۴ | په افغانستان کې د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو ( پانګونو ) پرمختګ او سیمه ییزه سوداګري | مجیب مشعل | | ✓ | سیاسی اقتصاد | کاري لیکنه |